



# اسلامي پرده

(سوالًا جوابًا)

پښتو


شيخ طريقت، امير اهلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# اِسلامي پرده

## (سوالاً جواباً)

يا رَبِّ مصطفٰی! کوم اسلامي ورور يا اسلامي خور چې دا رساله "اسلامي پرده (سوالاً جواباً)" پوره اولولي يا ئې واوري هغه د شَرم و حيا د خزانے نه مالا مال کړي او بے حسابه ئې اوبخښي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د عائشې بي بي د ستَني (واقعه)

**اُمُّ المُؤمِنِين** (يعني د ټولو مسلمانانو خوږه مور محترمه) حضرت عائشه صِدّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا د پيشمني په وخت څه ګنډل چې ناڅاپه ترې ستَن پريوتله او ډيوه هم مړه شوه. په دې کښې نبيِ کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو. د مخ مبارک په رڼا ټول کور روښانه شو تر دې پورې چې ستَنه ميلاؤ شو. هغې رَضِىَ اللهُ عَنْهَا عرض اوکړو: **يا رسولَ الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو مخ مبارک څومره روښانه دے! نُوراني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "وَيْلٌ لِّمَنْ لَا يَرَانِي يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يعني د هغه کَس د پاره هلاکت دے کوم چې ما د

قيامت په ورځ اونه ويني.“ عرض ئې اوکړو: هغه څوک دے کوم چې به تاسو اونه ليدے شي. اوئې فرمائيل: هغه بخيل (کنجوس) دے. پوښتنه ئې اوکړه: ”بخيل څوک؟“ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ” اَلَّذِیۡ لَایُصَلِّیۡ عَلَیَّ اِذَا سَمِعَ بِاسۡمِیۡ يعنې: چا چې زما نوم واوريدو او په ما باندې ئې دُرُودِ پاک اونه وئيلو.“

(القول البديع، ص 302، شرف المصطفٰے، ج: 2، ص: 103)

سُوزنِ گمشدہ ملتی ہے تبسم سے ترے
شام کو صُبح بناتا ہے اُجالا تیرا

(ذوقِ نعت، ص: 25)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د جامو د تار برکت (واقعه)

سوال: د اسلامي پردې کوونکې يوې بزرګې زنانه واقعه واورئ چې ايمان تازه شي.

جواب: يو ځل په دهلي کښې سخت قحط (يعني د باران نه کيدو په وجه د دانو کمے)راغے، د خلقو د ډيرو دُعاګانو باوجود باران اونه شو. حضرت نِظامُ الدِّين ابو المُؤَيّد رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د خپلې مور بي بي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡهَا **د جامو يو تار** په لاس کښې را واخستلو او دُعا ئې اوکړه: ”يا **اللّٰه**! دا د هغې زنانه **د لَمَن تار** دے په کومې زنانه چې چرې هم د چا نامَحرَمه نظر نه دے لګيدلے، زما مولٰى! د دې په وسيله د رحمت باران اوکړې.“ اوس لا دُعا ختمه شوې هم

نه وه چې فوراً باران شروع شو. (اخبار الاخيار، ص: 294) د **الله** رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د څادر او چار ديوارئ تعليم چا ورکړو؟

سوال: بعضې خلق وائي چې علمائے کرام زنانه په "**چار ديوارئ**" کښې کښينول غواړي!

جواب: په دې کښې د علمائے کرامو خپل څه ذاتي مفاد نشته، د دُنيا د يو عالِم دين نۀ، بلکه د ربُّ الْعٰلمين په سُورةُالاَحزاب آيت نمبر 33 کښې فرمانِ عالي شان دے:

| | |
|---|---|
| وَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى (پ: 22، الاحزاب: 33) | آسانه ترجَمهٔ القرآن کنزُ العرفان: او په خپلو کورونو کښې پاتې اوسئ او بے پرده مۀ اوسيږئ لکه څنګه چې د وړومبي جاهليت بے پردګي وه. |

"د تفسيرِ صِراطُ الجِنان" جلد 8 په صفحه 19 باندې د دې آيت مبارک په تفسير کښې دي: يعني اے زما د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيبيانو! تاسو په خپلو کورونو کښې اوسيږئ (او د شرعي اجازت نه بغير د کورونو نه بهر مه

اوځئ) ياد ساتئ چې په دې آيت کښې خطاب اګر چې ازواجِ مُطَهَّرات (يعنې زمونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاکو بيبيانو) رَضِىَ اللهُ عَنْهُنَّ ته دے خو په دې حکم کښې نورې زنانه هم داخلې دي.

(روح البيان، ج: 7، ص: 170)

## په خدائے مې دې قسم وي! بيا به د کور نه نۀ ووځم (واقِعه)

اَزواجِ مُطَهَّرات رَضِىَ اللهُ عَنْهُنَّ د **الله** پاک په دې حکم باندې تر کومه حده پورې عمل اوکړو، دې ته يو نظر اوکړئ. امام محمد بن سيرين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته اووئيلے شو چې اُمُّ المُؤمِنِين (يعنې د ټولو مسلمانانو مور محترمه) حضرت سَودَه رَضِىَ اللهُ عَنْها ته اووئيلے شو: په تاسو باندې څه شوي دي چې تاسو نه حج کوئ او نه عمره؟ هغې جواب ورکړو: ما حج هم کړے دے او عمره مې هم کړې ده او **الله** پاک ما ته حکم راکړے دے چې زه په کور کښې اوسم، **په الله پاک مې دې قسم وي! زۀ به بيا د کور نه نۀ ووځم.** د راوِي (يعنې د دې واقعې د اوريدونکي) بيان دے چې په **الله** پاک مې دې قسم وي! هغه د خپلې دروازې نه بهر رانغله تر دې چې د هغه ځائے نه د هغې جنازه ووتله. (تفسير ثعلبي، ج: 8، ص: 34، تفسير در منثور، ج: 6، ص: 599) د **الله** رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

**کاش!** د دې واقعې نه هغه زنانه هم سبق حاصل کړي، کومې چې په بازار وغيره کښې د خلقو په ګڼه کښې دننه او په طواف او سَعي وغيره کښې د ډيرې زړورتيا سره د نارينؤ ګڼې ته ننوځي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا نن سبا پرده ضروري نه ده؟

**سوال:** ''نن سبا پرده ضروري نه ده.'' داسې وئيل څنګه دي؟

**جواب:** داسې وئيل ډيره زياته سخته خبره ده. د دې قِسمه الفاظو سره مُطلَقاً (يعنې يقيني او پوره پوره) د پردې د فرض کيدو نه انکار ظاهريږي او **مُطلَقاً د پردې د فرض کيدو نه انکار کُفر دے،** البته که چرې څوک پرده فرض خو ګڼي خو د پردے د څه خاص قِسم (يعنې د خاص طرز) انکار کوي د کومو تعلق چې د قَطعِيّاتِ دِين سره نه دے نو بيا د کُفر حکم نه دے.

## ځوي مې بيللے دے حيا مې نه ده بيللې (واقعه)

**د حضرت بي بي اُمِّ خَلَّا** رَضِیَ اللہُ عَنْہا **ځوي په جنګ کښې شهيد شو،** د هغه په باره کښې د معلوماتو حاصلولو د پاره ئې مخ پټ کړو او په پرده کښې په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضره شوه، په دې باندې چا په حيرانتيا سره اووئيل: په دې وخت کښې هم تا مخ پټ کړے دے! اوئې وئيل: **ما ځوي ضرور بيللے دے، حيا مې نه ده بيللې.** (ابو داؤد، ج: 3، ص: 9، حديث:

2488) د الله رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغې په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

سُبْحٰنَ الله! د الله د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صَحابِیّه د دې واقعې نه دا خبره د زدکړې د پاره میلاؤ شوه چې که چرې خپلې د غم ښادۍ دستورې وي که د بیمارۍ حالات وي د مړې معامله وي، په هره موقع باندې د الله پاک د خوږ خوږ آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په حکمونو باندې د عمل کولو سره د پردے پوره پوره خیال ساتل ضروري دي، که شیطان د ډیرو مجبورو په ذهن کښې د کښینولو کوشش کوي، اسلامي خویندې دې هیڅ کله هم د شریعت او سُنَّت لاره نه پریږدي.

سرور دیں! لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر
نفس و شیطان سیّدا! کب تک دباتے جائیں گے

(حدائقِ بخشش، ص 157)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب   صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آیا د زړه پرده کافي ده؟

سوال: بعضې زنانه وائي: "پرده صرف د زړه پکار ده." د دې څه حقیقت دے؟

جواب: دا د شیطان ډیر غټ او خراب چال دے او په دې ناپاکه قول کښې د هغه قرآني آیتونو نه د انکار شکل دے په کوم کښې چې د

ظاهري بدن په پرده کښې د پټولو حکم ورکړے شوے دے،مثلاً په سيپاره 22 سُورۃُالاَحزاب آيت نمبر 33 کښې فرمائيلے شوي دي:

وَ قَرْنَ فِیْ بُیُوْتِكُنَّ وَ لَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِیَّةِ الْاُوْلٰى

(پ: 22، الاحزاب: 33)

آسانه ترجَمهٔ القرآن کنزُ العرفان: او په خپلو کورونو کښې پاتې اوسئ او بے پرده مهٔ اوسيږئ لکه څنګه چې د وړومبي جاهليت بے پردګي وه.

هم د دې سورت په آيت نمبر59 کښې دي:

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ وَ بَنٰتِكَ وَ نِسَآءِ الْمُؤْمِنِیْنَ یُدْنِیْنَ عَلَیْهِنَّ مِنْ جَلَابِیْبِهِنَّؕ

(پ: 22، الاحزاب: 59)

آسانه ترجَمهٔ القرآن کنزُ العرفان: اے نبي! خپلو بيبيانو او خپلو لوڼو او مسلمانانو زنانوؤ ته اوفرمايه چې د خپلو څادرونو يوه حصه د ځان د پاسه اچوي.

د 18 سيپارې په سورۃُالنُّور، آيت: 31 کښې دي:

لَا یُبْدِیْنَ زِیْنَتَهُنَّ

(پ: 22، الاحزاب: 59)

آسانه ترجَمهٔ القرآن کنزُ العرفان: او خپل ښائست دې نه ښکاره کوي.

**څوک چې د بدن د پردے نه هم انکار کوي او وائي چې ”پرده صِرف د زړهٔ پکار ده“ د هغه نه ايمان لاړو.** خو د داسې وئيلو (يعنې د کافرې مرتدې کيدو) باوجود د نکاح نه اونه وتله، نه د هغې د پاره رَوا (يعنې جائز دي)

چې د اسلام راوړلو نه پس د بَل چا سره نکاح اوکړي، آؤ (هغه د خپل اِرتداد يعنې د ايمان بربادېدو په سبب په خپل خاؤند باندې حرامه شوې ده ځکه چې) د اسلام راوړلو نه پس، د مخکښيني خاؤند سره تجديدِ نکاح (يعنې د نوي سر نه په نکاح کولو) باندې مجبورولے شي. که چرې د چا مُريده وه نو د هغې بيعت مات شوے دے د اسلام راوړلو نه پس که چرې مريده کيدل غواړي نو د مخکښيني پير صاحب نه بيعت کول ضروري نه دي په پوره شرطونو (يعنې د مُرشِد جوړيدو قابل) پير نه بيعت کيدے شي. البته که چرې څوک د پردے فرض کيدل مني خو د پردے د څه داسې خاص طرز نه انکار اوکړي د کومې تعلق چې د "قَطعِيّاتِ دِين" سره نه دے نو بيا د کُفر حکم نه دے.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تجديد ايمان طريقه

**سوال:** تجديدِ ايمان (يعنې د نوي سر نه د ايمان راوړو) طريقه اوښائې.

**جواب:** د کوم کفر نه چې توبه کول دي هغه به هغه وخت قبوله وي ولې چې هغه، هغه کُفر کُفر مني او په زړه کښې د هغه کفر نه بيزاري هم وي، کوم کفر چې ترې شوے وي په توبه کښې د هغې ذِکر هم وي. مثلاً چا چې د بدن د پردے نه د مکمل انکار (يا په ذهن کښې د ساتلو)

سره اووئیل: ”پرده صرف د زړه وي“ هغه دې داسې اووائي: یا **الله** پاکه! ما چې څه اووئیل چې ”پرده صرف د زړه وي.“ **زه د دې کفر نه توبه کووم.** زه ګواهي ورکووم چې ” لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د **الله** پاک نه سِوا هيڅ څوک هم د عبادت لائق نشته **محمد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک رسول دے“ دغه شان به د خاص کُفر نه توبه هم اوشي او **تجديد ايمان** (يعنې د نوي سر نه ايمان راوړل) **هم.** که چرې مَعَاذَ الله! ډير ځله ئې **د کفر کلمے** وئيلې وي او ياد ورته نه وي نو چې څه ئې وئيلي دي: ”**يا الله پاکه! زما د خلے نه چې کوم کُفر وتلے وي زه د هغې نه توبه کووم.**“ بيا دې کلمه اولولي. (که چرې د کلمې شريفې ترجمه ورته معلومه ده نو په ژبه ترجمې وئيلو ته ضرورت نشته) که چرې د دې ورته پته نه وي چې کفر ئې د خُلے نه وتلے هم دے که نه بيا هم احتياطاً توبه پکار ده نو داسې دې اووائي: **يا الله پاکه! که چرې زما نه څه کفر شوے وي نو زه د هغې نه توبه کووم.**“ د دې وئيلو نه پس دې **کلمه** اووائي.

## د تجديدِ نکاح طريقه

سوال: تجديدِ نکاح څنګه کولے شي؟

جواب: د تجديدِ نکاح معنىٰ ده: ”د نوي مَهر سره نوې **نکاح** کول.“ د دې د پاره د خلقو راجمع کول ضروري نه دي. **نکاح** د ايجاب او قبول نوم دے. آؤ د نکاح په وخت کم نه کم د دوؤ نارينؤ مسلمانانو يا يو نارينه مسلمان او دوه مسلمانانو زنانؤ حاضريدل لازمي دي. د **نکاح**

**خطبه** شرط نه ده بلکه مُستحب ده. که خطبه یاده نه وي نو د اَعُوذُبِاللّٰه او بِسمِ‌اللّٰه شریف نه پس **سورهٔ فاتِحه** هم لوستے شئ. کم نه کم لس درهمه یعني دوه تولے اووه نیمي ماسي سپین زر (د اوسني وزن په حساب سره 30 ګرامه 618 مِلي ګرامه سپین زر) یا د دې رقم واجب مَهر دے. مثلاً تاسو د پاکستاني 1200 روپو قرض مَهر نیت کړے دے (خو دې ته اوګورئ چې د مَهر تاکلو په وخت د بیان شوؤ سپینو زرو قیمت د 1200 پاکستاني روپو نه زیات خو نه دے) نو اوس د ذِکر شوؤ ګواهانو په موجودګئ کښې تاسو "ایجاب" اوکړئ یعني زنانه ته اووائې: "ما د 1200 پاکستاني روپو د مَهر په بدل ستا سره نکاح اوکړه." زنانه دې اووائي: "ما قبوله کړه." نکاح اوشوه. دا هم کیدے شي چې **زنانه** خُطبه یا **سورهٔ فاتِحه** اولولي او "ایجاب"اوکړي او نارینه اووائي:"ما قبوله کړه" **نکاح** اوشو. د **نکاح** نه پس که چرې زنانه اوغواړي نو مَهر معاف کولے هم شي. خو نارینه دې د شرعي حاجت نه بغیر زنانه ته د مَهر معاف کولو نه وائي. **یاد ساتئ!** نکاح د باقي پاتې کیدو سره د هغه ښځې سره صِرف په احتیاطي نکاح کولو کښې مَهر واجب نه دے بلکه مستحب دے. په "بهارِشریعت"

کښې دي: که چرې صرف احتیاطاً نکاح ئې اوکړه نو بیا د نکاح مَهر واجب نه شو.

(بهارِ شریعت، ج: 2، ص: 67)

## که زړه ټیک وو نو ظاهر به هم ټیک شوے وے

**حقيقت** خو دا دے چې د انسان "ظاهر" د هغه د زړه نمائنده دے، چې زړه ښه وي نو دا به بهر هم ظاهريږي، ځکه به پرده هغه کوي د چا چې زړه ښه او د **الله** د اطاعت طرف ته مائل وي. اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: دا خيال چې "باطِن (يعني زړه) صفا پکار دے چې ظاهر هر ښنګه وي" صرف باطِل (يعني بالکل غلط) دے. په حديث کښې اوفرمائيلے شو چې "که د ده زړه ټيک وے نو ظاهر به ئې پخپله ټيک شوے وے."

(فتاویٰ رضويه، ج: 22، ص: 605)

## د نا محرمه نارينه او زنانه لاس ميلاوهل

سوال: د نامحرمه نارينه او زنانه خپل مينځ کښې لاس ميلاوهل ښنګه دي؟

جواب: دواړه ګناهګاران او د اور د عذاب حق دار دي. حضرت فقيه ابُو للَّيث سَمَر قَندي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه نقل فرمائي: په دُنيا کښې د پرَدئ زنانه (يعني نامحرمه) سره لاس ميلاوهونکے به د قيامت په ورځ په دې حال کښې راځي چې د هغه لاسونه به د هغه په غاړه پورې د اور په زنځيرونو باندې تړلي وي.

(قرة العيون مع روض الفائق، ص: 389)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په سر کښې د اوسپنې ميخ

**فرمانِ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : "په تاسو کښې د چا په سر کښې د اوسپنې ميخ ټک وهل د دې نه بهتر دے چې هغه داسې زنانه له لاس وروړي کومه چې د هغه د پاره حلاله نه ده."

(مُعجَم کبير، ج: 20، ص: 211، حديث: 486)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پردے نارينه او [پردئ] زنانه چا ته وئيلے شي؟

سوال: پردے نارينه او [پردئ] زنانه چا ته وئيلے شي؟

جواب: هر هغه نارينه او زنانه ته د يو بَل د پاره پردي وئيلے شي د چا چې په خپل مينځ کښې نکاح د هميشه د پاره حرامه نه وي. داسې نارينه ته نا محرم يا پردے نارينه او داسې زنانه ته نا محرمه يا پردئ زنانه هم وئيلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دنيا ډيره ترقي کړې ده!

سوال: بعضې خلق وائي: دُنيا ډيره ترقي کړې ده، د پردے په معامله کښې دومره سختي نه دي کول پکار.

جواب: د الله پاک د ټولو نه د آخري نبي، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هيڅ

حکم هم داسې نشته کوم چې په مسلمان بانديې د هغه د طاقت نه زيات وي. په 3 سيپاره سُورة البقره آيت 286 کښې د **اللّٰه** پاک فرمانِ عالي شان دے:

لَا یُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ
(پ: 3، البقره: 286)

آسانه ترجَمۂ قرآن کنزُ العِرفان: **اللّٰه** په يو ځان بانديې د هغه د طاقت برابر بوج اچوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آيا اِسلامي پرده په ترقۍ کښې خنډ دے؟

سوال: بعضې خلق وائي: غير مسلمو ډيره ترقي کړې ده، په پردے بانديې سختي د مسلمانانو په ترقۍ کښې خنډ دے!

جواب: د خدائے پناه! که چرې رښتيا اووايم نو د مسلمانانو په ترقۍ کښې پرده نه، بے پردګي خنډ دے! آؤ جي، تر څو پورې چې په مسلمانانو کښې شرم و حيا او پرده وه تر هغه وخته پورې هغوئي فتوحات حاصلول او وړاندې تلل تر دې چې د دُنيا په بے شميره ملکونو کښې ئې د اسلام جنډا اودروله. **پرده کوونکو ميندو** ډير لوئے لوئے بهادران جرنيلان، سپه سالار، عظيم حکمرانان، بهترين علمائے دين او اوليائے کاملين اوزيږول. تول اُمَهَّاتُ المُؤمِنِين او صحابيات رَضِیَ اللهُ عَنْهُنَّ پرده کوله، د **حَسَنَینِ کرِيمَين** رَضِیَ اللهُ عَنْهُما خوږه **محترمه** مور، **د جنّتي زنانؤ سرداره، حضرت فاطِمه** رَضِیَ اللهُ عَنْهَا پرده کوله، د سرکارِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوږې مور **اُمُّ الخير فاطِمه**

رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا پرده کوله. **العرض تر څو پورې چې پرده** قائمه وه او حيا دارې زنانه **د کورد چارديوالۍ** دننه وې، مسلمانانو ښه ترقي کوله. آه! نن سبا نادانه مسلمانان په T.V او YOU TUBE وغيره باندې د فلمونو ډرامو لګولو او، د بې شرمه فلمي سندرو د ځان سره د وئيلو او، په ودونو کښې د ګډا رنګينه **محفلونو** راجوړولو او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د ښکلي سُنَّت خَريلو او يا ئې د يو مُټې نه کمولو او د سُنَّت خلاف د فينسي جامو اچولو او په سکوټر باندې په ځان پسې د بې پرده ښځې کښېنولو او د ميک اَپ کولو سره بې پرده ښځه د پردو نارينؤ نه ډک د سيل وغيره ځائے ته د بوتللو او خپل اولاد د دنيائي تعليم په خاطر غير مسلمو ته د حواله کولو سره پته نه لګي چې د څه قسم ترقۍ لټولو والا دي!

بے پردہ کل جو آئیں نظر چند بیبیاں
اکبرؔ زمیں میں غیرتِ قومی سے گڑ گیا
پوچھا جو اُن سے آپ کا پردہ وہ کیا ہوا؟
کہنے لگیں: وہ عقل پہ مردوں کی پڑ گیا

(اکبرؔ اله آبادي)

## په حقيقت کښې کامياب څوک؟

افسوس ډير افسوس! نن سبا بے شميره مسلمانان د دروغو، غيبت، تهمت، خِيانت، بدکارۍ، شراب څښلو، جوارۍ، فلمونو ډرامو کتلو او سندرو باجو اوريدو وغيره ګناهونه ښه په زړورتيا سره کوي، ډيرو مسلمانانو زنانؤ د **نارينؤ سره اوګه په اوګه** (يعني د يو ځائے) تللو په تکل کښې د حيا څادر غورځولے دے او اوس ساړيانو، نيمو لغړو (يعني نيمو

بربنډو) جامو، د نارينؤ د جامو په شان جامو، د نارينؤ په شان د ويښتو سره د واده هالونو، د سيل سپاټو ځايونو، هوټلو او نائټ کلبونو وغيره کښې د خپل آخرت په بربادولو کښې مشغولې دي. **په اللّٰه پاک مې دې قسم وي!** په دې طور طريقو کښې نه حقيقي ترقي ده او نه کاميابي، ترقي صرف او صرف د **اللّٰه** پاک او د هغه د ښکلي آخري نبي، مکي مدني، **مُحَمَّدِ عَرَبِي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فرمانبردارئ کولو سره دا لږ شان ژوند د سنتو مطابق تيرولو سره قبر ته د سلامت ايمان وړلو او د دوزخ د وحشت ناک عذاب نه د بچ کيدو سره په جنّت مومندلو کښې ده. په 4 سيپاره، **سورةُ اٰلِ عمران** آيت 185 کښې د اللّٰه پاک ارشاد دے:

فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَؕ

آسانه ترجَمهٔ قرآن كنزُ العِرفان: نو څوک چې د اور نه بچ کړے شو او جنّت ته بوتلے شو نو هغه کامياب شو.

## په دوزخ کښې زياتې زنانه

په زنانؤ کښې بے پردګي او نور ګناهونه ډير خطرناک دي، په **اللّٰه** پاک مې دې قسم وي! د دوزخ عذاب به څوک هم برداشت نکړے شي. په "صحيح مُسلِم" کښې دي: د حُضُور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "ما په دوزخ کښې اوليدلې چې زنانه زياتې دي."

(مُسلِم، ص: 1123، حديث: 6938)

په "مِرآت شريف" کښې د دې حديثِ پاک په شرح کښې دي: د دې

وجه دا بيان کړے شوه چې زنانه زياتې ناشکره (او) بے صبره دي، زنانه چې خرابه شي نو ټول کور خرابوي او چې ټيک شي نو ټول کور ټيک کوي، د ماشوم وړومبئ مدرسه د مور غيږه ده.

(مرآت، ج: 7، ص: 60)

## د خاوند نافرمانه ښځه دوزخي ده

په "بُخاري شريف" کښې دي: رسولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "ما په دوزخ کښې ګڼ شميره د زنانو اوليدلو." نو صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د دې څه وجه ده چې زنانه زياتې دوزخيانې شوې؟ نو حضور اکرم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

"د دې وجه دا ده چې زنانه د خاوند ناشکري او احسان فراموشي کوي، که چرې تهٔ د دې (يعنې زنانو) سره ټول عمر ښيګړه اوکړې، بيا ئې ستا د طرف نه لږه شان خبره اوليدله نو (خاؤند ته) وائي چې ما ستا نه چرې هم خير نه دے ليدلے."

(بخاري، ج: 3، ص: 463، حديث: 5197 ملخصاً)

اے اسلامي خويندو ښه په توجه سره واورئ!

حیا ہے آنکھ میں باقی نہ دل میں خوفِ خدا
بہت دنوں سے نظامِ حیات ہے برہم

وہی ہے راہ ترے عزم و شوق کی منزل
جہاں ہیں عائشہ و فاطمہ کے نقشِ قدم

تری حیات ہے کردارِ رابعہ بصری
ترے فسانے کا موضوع عِصمتِ مریم

## د بې غيرتۍ انتها

د **غير مسلمو** د "اُلټا ترقۍ" زغل کولو سره بې پردګي او بې حيائي کوونکي خلق دې لږ غور اوکړي! چې د دوئي په خپل او د دې اُلټا ترقۍ والا غير مسلمو نه په متاثره شوؤ ملکونو کښې څه کيږي! د ډانس په ځايونو کښې خلق په خپلو سترګو خپلې خويندې لوڼه د پردو سرړو سره ويني او هډو څه اثر پرې نه کيږي بلکه بعضې وخت خو په فخر سره ورته پړقې وهي! د پرده نه کوونکو او فيشن ايبل زنانۇ په باره کښې حيا سوز خبرونه هره ورځ په اخبارونو کښې چاپ کيږي.

## اويا زره (70,000) غير قانوني بچي

په **دويم** جنګِ عظيم کښې د يو غير اسلامي ملک سپاهيان د خپل دوست د يو غير مسلمه ملک د مرستې په نوم باندې يو څو کاله په هغه ملک کښې پاتې شو او ښه "ګنده کارونه" ئې اوکړل، چې کله لاړل نو د حکومت د شمير مطابق اويا زره (70, 000) "بچي" ئې پريښودل! په بعضې غير اسلامي ملکونو کښې د څو کاله زړې سروے مطابق "د غيرقانوني ماشومانو" د زيږون شرح د شپيتۀ في صده (60%) نه زياته شوې ده او د "نا واده کړو ميندو" شميره تر خطرناک حده پورې زياتيږي! طلاقونه زيات دي، په کورونو کښې د سکون دولت نه ميلاويږي، په ښځۀ خاوند کښې اعتماد ورَک دے، په ښځۀ خاوند کښې رښتينې مينه پاتې نه ده، د برداشت او قربانۍ جذبه ختمه شوې ده، که چرې څه خبره د چا د خوښې خلاف اوشوه نو سمدستي **طلاق**

واخلي. غور اوکړئ! د ښځې خاوند يو رائے کيدل کومه چې د معاشرې وړومبئ خخته ده او مضبوط بنياد هم دا دے چې په کوم باندې د معاشرې محل جوړيدے شي، که چرې دا بنياد کمزورے وي نو صحت منده معاشره به څنګه جوړيږي؟

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اسلام چې د کومو څيزونو د کولو حکم کړے دے په هغې کښې زمونږه خير دے او د کومو څيزونو نه ئې چې منع کړي يو د هغې په کولو کښې زمونږه صرف نقصان دے. دا دين د هميشه د پاره دے څکه داسې وخت نشي راتلے چې د دې حرام کړے شوي څيزونه په هر حال کښې حلال شي يا په دې باندې مرتب کيدونکي نقصانات ختم شي.

اُٹھا کر پھینک دے اللہ کے بندے
نئی تہذیب کے انڈے ہیں گندے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## که په اسلامي پرده کولو کښې ويره وي نو ....

**سوال:** ماحول ډير ايډوانس او فيشن پرستي عامه ده، د اسلامي پردے کولو سره ويره محسوسيږي، څه اوکړے شي؟

**جواب:** اسلامي پرده دې نه پريښودلے کيږي چې دا ډيره عظيمه نيکي ده او بے پردګي سخته ګناه ده. په پرده کولو کښې چې څومره تکليف زيات وي هغه همره به ثواب هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! زيات ميلاويږي. وئيلے

شوي دي: اَفضَلُ العِبَادَاتِ اَحمَزُها. يعني ”افضل ترين عبادت هغه دے په کوم کښې چې زحمت زيات وي.“

(کشف الخفاء، ج: 1، ص: 141)

امام شَرَفُ الدِّين نَوَوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ”په عبادت کښې د خوارئ او خرچ زياتيدو سره ثواب او فضيلت هم زياتيږي.“

(شرح صحيح مسلم للنووي، ج: 4، جزء: 8، ص: 152)

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ”افضل ترين عمل هغه دے د کوم د پاره چې نفسونه مجبور کيدل پريوځي.“

(محاسبة النفس لا بن ابي الدنيا، ص: 82، رقم: 113)

حضرت ابراهيم بن ادهم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ”کوم عمل چې په دنيا کښې خومره ګران وي د قيامت په ورځ به په ميزانِ عمل (يعني د عملونو په تلونکي تَله) کښې هغه همره وزن داره وي.“ (تذکرة الاولياء، ص: 96 ملخصاً) آؤ که چرې د چا په خپل زړه کښې بدي وي نو څه وئيلے شو!

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په ”**نُورُ العِرفان**“ صفحه 318 باندې فرمائي: ”چا ته چې ګناه آسانه معلومه شي او نيک کار ګران، پوهه شئ چې د هغه په زړه کښې نفاق دے، **الله** پاک دې [مونږه] محفوظه کړي.“

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فاطِمې بي بي د کفن هم پرده (واقعه)

**سوال:** وئيلے شي: چې د حضرت فاطمې بي بي رضي الله عنها د هغې په کفن باندې هم د چا پردې نارينه سترګې لګيدل خوښ نه وو!

**جواب:** بے شکه، هم داسې وه، د جنت د زنانؤ سردارې، حضرت فاطمې بي بي رضي الله عنها حضرت بي بي اسما بنت عميس رضي الله عنها ته اوفرمائيل:

"زما هغه طريقه خوښه نه چې د زنانه په جنازه باندې د پاسه يوه کپړه واچولے شي او ورلے کيږي." دا ئې چې واوريدل نو هغې اووئيل: ما په "حَبَشه" (اوسنے نوم ايتهوپيا) کښې ليدلي دي چې په جنازې باندې د وَنې ښاخونه اوتړي او يوه ډولۍ شان جوړه کړي او په هغې باندې پرده اچوي. بيا هغې د کجورو ښاخونه رااوغوښتل او هغه ئې يو ځائے کړل او په هغې باندې ئې کپړه واچوله او حضرت فاطمې بي بي رضي الله عنها ته ئې اوښودله. حضرت خاتونِ جنَّت رضي الله عنها اوفرمائيل: "دا ښومره ښکلې طريقه ده"

(کله چې زه وفات شم نو زما جنازه هم داسې پټه کړئ او يوسئ ئې).

(حلية اولياء، ج: 2، ص: 53، قول نمبر: 1455 نه خلاصه)

**سُبْحٰنَ الله!** د حضرت فاطمې بي بي رضي الله عنها هم د پردې د جذبے هم څه خبره ده! چا ښومره ښکلے شعر وئيلے دے:

چو زَہرا باش از مخلوق رُو پوش — کہ در آغوش شبیرے بہ بینی

(يعنې د حضرت فاطمه زهرا رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په شان پرهيزګاره پرده داره جوړه شه د پاره د دې چې د حضرت امام حسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په شان اولاد په خپله غيږه کښې اووينې. يعنې کومه زنانه چې د حضرت فاطمې رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا وينزه وي د هغې اولاد به د حضرت امام حُسين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ غلام وي)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د فاطمې بي بي په پل صراط باندې هم پرده

سوال: حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا به آيا د محشر خلق هم په پل صراط باندې په تيريدو نشي ليدلے؟

جواب: حضرت مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ بيانوي: د الله پاک خوږ رسول صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې به د قيامت ورځ وي نو وئيلے به شي: اے د محشر والؤ خپلې سترګې ټيټې کړئ، د پاره د دې چې حضرت فاطِمه (په پل صراط) تيره شي.

(فضائل الصحابۂ لا حمد بن حنبل، ج: 2 ص: 763)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د زنانه ميک اپ کول څنګه دي؟

سوال: د زنانه ميک اَپ کول، تَنګې يا نرئ جامې اغوستل څنګه دي؟

جواب: د کور په چار ديوارئ کښې صرف د خپل خاوند د پاره ښځه په

جائز طريقے سره ميک اَپ کولے شي، د شرعي اجازت سره هم د کور نه د بهر وتلو د پاره دې زنانه سُرخي پاؤډر وغيره او خوريدونکې خوشبو نه لګوي. مَعَاذَالله! پردي سرې وي هلته د ډَوَل سينګار سره بے پردے وتل ګناه ده. نرئ لوپټه په کومه کښې چې د سر ويښته ښکاري يا د نرئ کپړې جرابې (يعني موزې) په کومو کښې چې د ښپو د ګيټو خرمن ښکاري يا د داسې تنګو جامو اغوستلو سره په کومو کښې چې سينه راوتې ښکاري پردو نارينؤ مخې ته راتلل ګناه ده.

## د بے پردې او بے حيا زنانوؤ انجام

د "تفسيرِ صراط الجنان" په 8 جلد صفحه 22 نه 25 باندې دي: د شرم او د حيا نه خالي او د بے پردے زنانؤ په دُنيا کښې انجام خو هر څوک په معاشره کښې په خپلو سترګو ليدلے شي چې په عزت داره او حيا ناکه طبقه کښې د هغوئې هيڅ قدر نه کيږي، (ګنده ذهن لرونکي) خلق هغه د خپلو هوس نه ډکو سترګو ښکار جوړوي، په هغوئې پسې آوازونه کوي او هغوئې چيړي، د خلقو په نظر کښې د هغې حيثيت د نفس خواهش او د هوس پوره کولو ذريعے نه علاوه بَل هيڅ نه وي او هم دغه وجه ده چې د هوس پوره کيدو نه پس هغوئې د زنانه نه لا تعلقه شي او ډيرو خلقو به ليدلي وي چې داسې زنانه پخپله د قسما قسم خطرناکو مرضونو ښکار شي او په آخره کښې د عبرتناک مرګ سره مخامخ شي او د قبر تيارۀ کندې ته لاړه شي، دا خو د دې د دُنيا انجام دے، اوس دلته د داسې زنانؤ د آخرت انجام هم واورئ،

## د زنانه دوزخ ته د تللو بعضې اسباب

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د دوزخيانو دوه قِسمونه داسې دي کوم چې ما (په خپله زمانه کښې) نه دي ليدلي (بلکه هغه به زما نه پس راتلونکې زمانه کښې وي) **(1)** هغه خلق د کومو سره چې به د غوا د لکئ په شان کوړې وي په کومو چې به هغوئي خلق (بر ناحقه) وهي.[1] **(2)** هغه زنانه کومې چې به د جامو اغوستو باوجود لغړې وي، مائله کوونکې او مائله کيدونکې به وي، د هغوئي سرونه به د غټو اوښو د قُبانو په شان وي، دوئي به نه جنت ته ځي او نه به د هغه [جنت] خوشبو بيامومي حالانکه د هغې خوشبو به تر ډير لرې پورې ځي.

(مسلم، ص: 906، حديث: 5582)

## د حديثِ پاک شرح

په دې حديثِ پاک کښې د زنانؤ درې کارونه بيان شول د کومو په وجه چې به هغوئي دوزخ ته ځي، **(1)** "**د جامو اغوستو باوجود به لغړې وي.**" يعني د خپل بدن څه حصه به پټوي او څه به ظاهروي د پاره دې چې د هغې حُسن او جمال ښکاره شي يا دومره نرئ جامې به اغوندي په

---

[1] ... مطلب دا دے چې هغه ظالمَان حاکمَان يا د هغوئي نوکران به کوړې د څان سره ګرځوي په هره خبره به خلق په دې باندې وهي- چا دوئي ته سلام اونکړو يا د دوئي د عزت د پاره اونه دريدلو د دوئي د ظلم ملاتړ ئې اونه کړو هغه ئې بے دريغه وهلو.
(مرأة المناجيح، ج: 5، ص: 290)

کومو کښې چې به د هغوئي بدن هسې هم ښکاري نو دوئي به اکثر چې جامې اغوستې وي خو په حقيقت کښې به لغړې وي.

**(2)** "**مائل کوونکې او مائله کيدونکې به وي.**" يعنې د خلقو زړونه به ځان طرف ته مائل کوي (يعنې راګرځوي)او پخپله به د هغوئي طرف ته مائله (يعنې رغبت به) کوي يا لوپټه به د خپل سر نه او بُرقع به د خپل مخ نه لرې کوي د پاره د دې چې د دوئي مخونه ښکاره شي يا په خپلو خبرو يا په سندرو خلق ځان ته مائل کړي او پخپله به د هغوئي طرف ته مائله کيږي.

**(3)** "**د هغوئي سرونه به د اوښو د قُبانو په شان وي.**" د دې جملے وضاحتونه خو ډير دي خو بهتر وضاحت ئې دا دے چې هغه زنانه به په لاره د تللو په وخت سر نه ټيټوي بلکه په بے حيائې سره به ئې سر اوچت کړے وي او هر طرف ته په نظر راتلونکو خلقو ته به نيغ نيغ ګوري، لکه څنګه چې د اوښ په ټول بدن کښې (په ملا باندې) قُب اوچت وي داسې به د دوئي سرونه اوچت وي.

(مرقاة المفاتيح، ج: 7، ص: 83-84 تحت الحديث: 3524 ملخصاً)

## آه! بيان کړے شوي درے واړه خيزونه
## اوس په زنانؤ کښې موجود دي

که چرې غور اوکړے شي نو په دريو واړو کښې هغه کوم يو داسې صورت دے کوم چې زمونږه د معاشرې په زنانؤ کښې نشته، زمونږه د

غيبو خبرونو ورکوونکے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سوؤنو کاله مخکښې چې کوم خبر راکړو هغه نن حرف په حرف پوره په نظر راځي او زمونږه د معاشرې د زنانؤ حال دا دے چې هغوئي داسې جامې اغوندي په کومو چې د هغوئي د بدن څه حصه پټه وي او څه ښکاره وي، يا د هغوئي جامې دومره نرئ وي په کومو کښې چې د هغوئي د بدن رنګ صفا په نظر راځي، يا د هغوئي جامے په بدن پورې داسې [تنګ] نښتې وي په کومو کښې چې د هغوئي د بدن ساخت (يعني بناوټ) ښکاره وي نو دوئي خو په ظاهره جامې اغوستې وي خو په حقيقت کښې لغړې وي ځکه چې د جامو اغوستلو مقصد د بدن پټول او د هغې ساخت (يعني بناوټ) د ښکاره کيدو نه بچ کول دي او د دوئي د جامو نه دا مقصد نه حاصليږي، د دې د پاره دوئي داسې دي لکه چې دوئي چې هډو جامې نه وي اغوستې او د دوئي د تَګ، خبرو او کتلو انداز داسې وي په کومې چې دوئي د خلقو زړونه ځان طرف ته مائل کوي (يعني را اړوي) او د ځان حال ئې هم دا وي چې پردو نارينؤ ته ډيرې مائله کيږي، لوپټې د دوئي په سرونو باندې نه وي او (بعضې) بُرقعې اغوستونکې نقاب د مخ نه لرې کړي ګرځي د پاره د دې چې خلق د دوئي مخ اوويني. داسې زنانؤ ته د **الله** پاک د عذاب او د دوزخ د خطرناکو سزاګانو نه ويريدل پکار دي. **الله** کريم دې زمونږه زنانؤ ته هدايت او عقلِ سليم عطا کړي او د خپل خراب حالت بنه کولو توفيق دې نصيب کړي، امين.

## دينِ اسلام د زنانؤ د عِصمت د ټولو نه لوئے محافظ دے

**ياد ساتئ** چې د يوې عزت دارې او حيا دارې زنانه د پاره د هغې عِصمت (يعنې پاک والے) د ټولو نه لوئے خيز دے  او د داسې زنانه سره د خپل عِصمت

اهميت دومره زيات وي چې هغه دا د لُوټ کولو نه د بچ کولو د پاره خپل ځان هم قربانوي او هر عقل مند انسان په دې خبره باندې ښه پوهيږي چې کوم خيز خومره زيات قيمتي وي د هغې د حفاظت هغه همره زيات اهتمام کولے شي تر دې چې د هغه ټولو اسبابو او ذريعو د ختمولو هم پوره کوشش کولے شي کوم چې د ټولو نه د قيمتي خيز د لُوټ کيدو سبب جوړيدے شي او په دينِ اسلام کښې د زنانه د عِصمت (يعنې پاک والي) اهميت او قدر ډير زيات دے دې د پاره په دينِ اسلام کښې د دې د حفاظت هم پوره اهتمام شوے دے، لکه څنګه چې په دينِ اسلام کښې زنانؤ ته داسې حکمونه ورکړے شول په کومو چې عمل نه کول د زنانه د عزت د پاره خطرناک ثابت کيدے شي، مثلاً زنانؤ او نارينؤ ته حکم اوکړے شو چې هغوئې دې خپل نظر څه ښکته ساتي، زنانؤ ته ئې اوفرمائيل چې د خپلو څادرونو يوه حصه په خپل مخ باندې اچوي، خپلې لوپټے په خپلو ګريبانونو باندې اچوي، هم دارنګې چې د جاهليت په وخت کښې به څنګه بے پردګي کيدله هغه شان بے پردګي دې نه کوي، په زمکه باندې دې خپلې ښپې دومره په زوره نه وهي چې د دوئې د دې

ښکلا پته اولګي کوم چې دوئي پته کړې ده، پردو نارینؤ ته دې خپله ښکلا نه ښکاره کوي، په خپلو کورونو کښې دې اوسیږي، که چرې د پردي نارینه سره د ضرورت څه خبره راپیښه شي نو په نرمه او نازکه لهجه او انداز کښې دې خبرې نه کوي وغیره. بیا د زنانؤ د عزت او عظمت بیانولو د پاره په قرآن کښې اوفرمائیلے شو چې کوم خلق په پاکه زنانه باندې د بدکارئ تُهمت اولګوي او هغه په شرعي طریقے سره ثابت نه کړے شي نو هغوئي له دې اتیا (80) کوړې اووهلے شي، د هغوئي ګواهي دې کله هم قبوله نه کړے شي او دا خلق فاسِقان دي. په نا اشنا، پاکو، ایماندارو زنانؤ باندې د بدکارئ بُهتان لګوونکو باندې په دُنیا او آخرت کښې لعنت دے او د دوئي د پاره د قیامت په ورځ لوئے عذاب دے.

## "د زنانه د آزادئ" نعرو وهلو نه بچ اوسئ

د دې حکمونو نه معلومه شوه چې دینِ اسلام د زنانه او د دې د عصمت (یعني پاک والي) د ټولو نه لوئے محافظ دے او د دې نه هغه خلقو ته نصیحت اخستل پکار دي کوم چې د مسلمان وئیلو باوجود "د کور" تقدس د ښپو لاندې کوي او د زنانه د آزادئ نعرې وهلو او د روشن خیالئ په نوم باندې زنانه د هر ځائے د ښکلا جوړولو او "د زنانوؤ د حقونو" په نوم باندې په هره شعبه کښې زنانه د نارینه سره اوګه په اوګه (یعني یو ځائے) د اودرولو کوششونه کوي او د زنانؤ د [ژوند] سره په آسانئ په لوبو کولو کښې مصروفه دي او هغه زنانؤ ته هم نصیحت اخستل

پکار دي کومې چې د خپل عزت او ناموس د دښمنانانو، بے علمه پوهانو د خوږو پستو خبرو نه متاثره کيږي او پخپله خپل ځان انديښنې ته مخامخ کوي او ځان غير محفوظه جوړوي. **الله** پاک دې

هغوئي ته هدايت او عقلِ سليم عطا کړي. امين

(صراط الجنان، ج: 8، ص: 22 نه 25)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا پرده کوونکې جينئ نه واده کيږي؟

سوال: کور والا د پردے کولو نه د دې وينا سره منع کوي چې "د کالج د تعليم نه محرومه، د فيشن پرستئ نه لرې، ساده او اسلامي پرده کوونکې جينئ رشته نه کيږي." آيا دا سوچ صحيح دے؟

جواب: دا سوچ غلط دے، په لوحِ محفوظ باندې چې چرته جوړه ليکلے شوې وي هلته به په هر حال کښې واده کيږي او که چرې نه وي ليکلې نو که ډير تعليم يافته او فيشن والا وي د دُنيا يو طاقت ئې هم واده نشي کولے، او که چرې په تقدير کښې ئې ليږ والے دے نو هم ليټ به ئې واده کيږي. هره ورځ پته نه لګي چې څومره تعليم يافته فيشن کوونکې اوبے واده جينکئ د پيښو [يعني حادثو] او بيمارو په ذريعه مرې کيږي او څومره پيغلې جينکئ په سمندر کښې د لامبو وهلو په شوق کښې مړې کيږي يا د بے پردګئ او فيشن پرستئ له کبله د "مجازي

عشق“ په چکر کښې ځان اونښلوي او بیا د خوښې د واده په لارو بندیدو باندې د ځان وژلو [یعني خود کُشي کولو] لارې خپلوي! مسلمانانو له هیڅ کله هم دا غلط سوچ نه دے پکار چې د بے پردګئ وغیره ګناهونو ذریعے به استعمالوي بیا به کار کیږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب          صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د لیور وراندار پرده

سوال: آیا د زنانه د خپل کشر لیور، مشر لیور، اوښې، د پلار له طرفه د ترور د خاوند، د مور له طرفه د ترور د خاوند، د ماما، مشر ترۀ، کشر ترۀ او د پلار له طرفه د ترور د ځامنو نه هم پرده ده؟

جواب: آؤ جي. بلکه د دوئي نه خو د پردے په معامله کښې ډیر احتیاط پکار دے ځکه چې د پیژندګلو په وجه ویره ختمیږي او داسې د نا اشنا سړي په مقابله کښې د څو چنده زیاتې فِتنے خطره وي، خو افسوس! نن سبا د دوئي نه د پردے کولو هډو ذهن پاتې نه دے، که چرې د **اللّٰہ** پاک یوه نیکه زنانه د پردے کولو کوشش کوي هم نو هغه په قسما قسم طریقو سره تنګولے شي. خو حوصله بیلل نه دي پکار. د خرابو حالاتو باوجود چې کومه خوش قسمته **اسلامي خور** په اسلامي پرده کولو کښې کامیابه شي او چې کله د دُنیا نه رخصت شي نو اِنۡ شَآءَاللّٰہ! ډیر کرم به پرې اوشي.

## د سخر په کور کښې ښځګه پرده اوکړي؟

**سوال:** د سخر په کور کښې د کشر لیور او مشر لیور وغیره نه ښځګه پرده اوکړے شي؟ ټوله ورځ پرده کول ډیر ګران کار دے، د کور د کار په وخت ښځګه خپل مخ پټ کړي؟

**جواب:** په کور کښې د اوسیدو په وخت به هم خاص طور د کشر او مشر لیور وغیره په معامله کښې احتیاط کول وي. په" **بُخاري شریف**" کښې حضرت سیّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللہ عَنْہُ بیانوي، **مکي مدني مصطفٰے** صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **اوفرمائیل**: "د زنانؤ خوا ته د تللو نه بچ اوسئ." یو کَس عرض اوکړو: یا **رسولَ الله** صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د لیور په باره کښې څه حکم دے؟ اوئې فرمائیل:

"**لیور مرګ دے.**" (بخاري، ج: 3، ص: 472، حدیث: 5232) د لیور د خپلې وراندار مخې ته کیدل لکه چې مرګ ته مخامخ کیدل دي چې دلته د فِتنې اندیښنه زیاته ده. مفتي اعظم پاکستان حضرت وقار ملت مولانا وقار الدین رَحْمَۃُ اللہ عَلَیْہ فرمائي: "د هغه خپلوانو کوم چې نامحرمه دي، د مخ، لاس تلي، د تلي او د ښپو د پیوند)، د ښپو او ګِټو نه علاوه پرده کول ضروري ده، دَوَل سینګار دې هم د دې په مخکښې نه ښکاره کولے کیږي."

(وقار الفتاویٰ، ج: 3، ص: 151)

## د پردو زنانؤ حُسن و جمال ته د کتلو عذاب

منقول (يعنې بيان کړے شوي) دي: ”**څوک چې د شهوت (يعنې خواهش) نه د چا پردئ [زنانه] حُسن او جمال ته ګوري د قيامت په ورځ به د هغه په سترګو کښې وِيلې شوې اوسپنه اچولے شي.**“ (هدايه، ج: 4، ص: 368) يقيناً وراندار هم پردئ ده. کوم کشر او مشر ليور او وراندار چې يو بَل ته په ”خوند“ سره ګوري، آزادي ساتي، ټوقې ټقالې کوي، هغوئي دې د **الله** پاک د عذاب نه اويَريږي او فوراً دې رښتيني توبه کړي. وراندار که چرې کشر ليور ته وړوکے ورور او مشر ليور ته مشر ورور اووائي د دې نه بے پردګي او آزادي نه جائزه کيږي بلکه دا قِسم خبرې هم فاصلے ختموي او (دواړه) نزدې راولي او کشر ليور او وراندار د بد نظرئ، آزادئ، خپل مينځ کښې د ټوقو ټقالو وغيره ګناهونو په ډنډه کښې نښلي، حالانکه د مشر او کشر ليور او د وراندار بغير د څه ضرورت نه په خپل مينځ کښې د احتياط سره خبرې اترې کول هم مسلسل د خطرې نه بهر نه وي!

## الله کرے دل ميں اُتر جائے مِری بات

کشر او مشر ليور او وراندار وغيره دې خبردار شي چې په حديث شريف کښې ارشاد دے: ”اَلعَينَانِ تَزنِيَانِ“ يعنې ”سترګې زِنا کوي.“ (مُسند امام احمد، ج: 3، ص 305، حديث: 8852) بهر حال که چرې په يو کور کښې د اوسيدو سره د زنانه د پاره د نزدې نامحرمه خپلوانو نه پرده ګرانه وي نو د مخ ښکاره کولو خو اجازت دے خو داسې نرئ جامې دې هيڅ کله هم نه

اغوندي په کومو کښې چې بدن يا د سر ويښته وغيره ښکاري يا داسې تنګې دې نه وي چې د بدن د اندامونو، د بدن بناوټ، ګولائي او د سينې راوتل وغيره ښکاره شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**سوال:** د بد نظرئ عذاب بيان کړئ.

**جواب:** په "مُكاشَفةُ القُلُوب" کښې بيان شوي دي: "کوم کس چې خپلې سترګې په حرام نظر سره ډکوي، د قيامت په ورځ به د هغه سترګې د اور نه ډکولے شي."

(مُكاشَفةُ القُلُوب، ص: 10)

## د اور سَلائي

حضرت علامه عبد الرحمٰن بن جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل (يعنې د بَل چا وئيلے شوے بيان) کوي: د زنانه حسن او جمال ته کتل د ابليس په زهرو کښې د خړوب شوؤ غشو نه يو غَشے دے، چا چې د نامحرمه نه د سترګو حفاظت اونکړو د هغه په سترګو کښې به د قيامت په ورځ د اور سلائي وهلے شي.

(بحرَ الدَّموع، ص: 171)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آیا په خُله د نیولے شوي وروړ خور پرده شته؟

سوال: آیا په خُله د نیولے شوي پلار، وروړ او ځوي وغیره نه هم د زنانه پرده ده؟

جواب: آو جي! د دوئي نه هم پرده ده چې ځوک پلار، وروړ یا په خُله ځوي اونیولے شي هغه حقیقي پلار، وروړ او ځوي نه جوړیږي، د دوئي سره خو نکاح هم صحیح ده. زمونږه په معاشره کښې په خُله د نیولو شوؤ رشتو رواج عام دے چا نارینه ځوک "زنانه" مور جوړه کړې ده، چا جینئ ځوک "وروړ"جوړ کړے دے نو چا زنانه ځوک "ځوي" جوړ کړے دے، ځوک د چا پیغلې جینئ **په خُله جوړ کړے شوے ترۀ** دے نو ځوک **په خُله جوړ کړے شوے پلار** او بیا د بے پردګئ، په خپل مینځ کښې د ټوقو مسخرو وغیره ګناهونو هغه سیلاب دے چې **اَلْاَمَان وَ الْحَفِیظ**. د نارینه د زنانه سره او د زنانه د نارینه سره په خُله رشته جوړونکو نارینؤ او زنانؤ ته د **اللہ** پاک نه ویریدل پکار دي. او د نارینه او زنانه ترمینځه داسې د خُلے رشتے هډو جوړول نه دي پکار، یقیناً شیطان د **مخکښې** نه د وئیلو سره ګُزار نه کوي. د مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: "د دُنیا او زنانؤ نه بچ اوسئ ځکه چې په بني اسرائیلو کښې د ټولو نه وړومبئ فتنه د زنانؤ په وجه را اوچته شوه."

(مسلم، ص 1124، حدیث: 6948)

## د غيرِه اختسونکي ماشوم حکم

سوال: آيا د چا ځوي غيرِه اختسے شي او که نه؟

جواب: خپلولے خو شي خو که هغه نامحرمه وي نو چي کله د زنانؤ په ”معاملو“ پوهه شي، نو د هغه نه دې پرده اوکړے شي. او خپله کړے شوې جينئ به د نامحرمه نارينه نه پرده کوي. فقهائے کرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي: د مُشتَهاة (يعني بلوغت ته د نزدې جينئ) کم نه کم عمر (د هجرئ کال مطابق) نهه کاله او مُراهِق (يعني بلوغت ته د نزدې هلک) د (هجرئ کال په حساب سره) دولس کاله دے.

(رَدُّ المُحتَار، ج: 4، ص: 118)

اعلٰــي حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د نهه کالو نه د کم عمر جينئ ته د پردې حاجت نشته او کله چي د پينځلسو کالو شي نو د ټولو نا محرمو نه پرده واجب ده، او د نهه نه د پينځلسو کالو پورې که چرې د بلوغت آثار ظاهر شي نو (هم پرده) واجب ده، او که ظاهر نه شي نو مُستَحب ده خاص طور د دولسو کالو نه پس سخت تاکيد دے چي دا زمانه بلوغت ته نزدې او د کمالِ اِشتِها ده (يعني د 12 کالو عمر د جينئ بالغيدو او د شهوت کمال ته د رسيدو نزدې وخت دے)

(فتاوىٰ رضويه، ج: 23، ص: 639)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## غيږه اخستې ماشوم نه د پردے جائز کيدو صورت

**سوال:** د وړوکوالي نه پالونکي ماشومانو په پوهه کيدو باندې"پرده" نافِذ کول ډيره ګرانه معلوميږي. څه داسې صورت اوښائې چې ماشوم خپل کړې او په ځلمي توب [يا پيغلتوب] کښې پرده واجب نه شي.

**جواب:** د دې صورت دا دے چې کوم ماشوم يا ماشومه خپله کړے شوې ده د هغې سره د پئيو رشته جوړه کړي. خو د پئيو په رشته جوړولو کښې دې خبرې ته پام کول ضروري دي چې که چرې ماشومه خپلول وي نو د خاوند سره دې د رضاعت رشته قائمه کړے شي مثلاً د خاوند خور يا خورزه يا وريره دې، دې ماشومې له خپل پئ ورکړي او که چرې هلک خپلول وي نو ښځه دې د ده سره د خپل رضاعت رشته قائمه کړي مثلاً ښځه دې پخپله يا د ښځې خور يا لور يا خورزه يا وريره دې، دې ماشوم له خپل پئ ورکړي. داسې به په دواړو صورتونو کښې د ښځې او خاوند دواړو د پاره د پردې مسئلے حل شي. دا ياد ساتئ چې کله هم د پئيو رشته قائمول وي نو هلک ته دې (د هجرئ کال په حساب سره) د دوؤ کالو عمر پورې پئ ورکړے شي. د دې نه پس پئ ورکول جائز نه دي بلکه د مور د پاره خپل سَکه اولاد ته هم د دوؤ کالو عمر نه پس پئ ورکول جائز نه دي خو د دوه نيمو کالو عمر دننه که چرې ماشوم د چا زنانه پئ اوڅښي نو د پئيو رشته قائميږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پير او مُريدې پرده

**سوال:** آيا د مُريدې او پير هم پرده شته؟

**جواب:** آؤ جي، د نامحرمه پير او زنانه هم په خپل مينځ کښې پرده ده. اعلٰـى حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”د پردے په باب کښې د پير او غيرِ پير هر پردي [ناشنا] حُڪم يو شان دے.“

(فتاوىٰ رضويه، ج: 22، ص: 205)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ضرورتاً د نامحرمه سره د خبرو انداز څنګه پڪار دے؟

**سوال:** زنانه ضرورتاً د نارينه سره په کوم انداز کښې خبرې اوکړي؟

**جواب:** په 22 سيپاره، سورةُالاحزاب، آيت 32 کښې دي:

يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِیْ فِیْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّ قُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾

**آسانه ترجَمهٔ قرآن كنزُ العرفان:** اے د نبي بيبيانو! تاسو د نورو زنانؤ په شان نه ئې. که چرې تاسو د **الله** نه ويريږئ نو په خبره کولو کښې داسې نرمي مه کوئ چې د زړه مريض سړے څه لالچ اوکړي او تاسو ښه خبره کوئ.

د دې مبارک آيت لاندې په ”تفسيرِ صِراط الجِنان“ کښې دي: (اِنِ اتَّقيتُنَّ: که چرې تاسو د **الله** نه ويريږئ) د آيت په دې حصه کښې ازواج

مُطَهَّرات رَضِیَ اللہ عَنْهُنَّ (يعني د حضور اکرم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاکو بيبيانو) ته "يو د اَدب" تعليم ورکړے شوے دے چې که چرې تاسو د **اللّٰه** پاک د حکم او د رسولِ کريم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا د **مخالفت** نه ويريږئ نو چې کله د څه ضرورت په وخت د نامحرمه نارينه سره د پردے د شا ته نه خبرې کول پيښ شي نو هغه وخت داسې انداز اختيار کړئ د کومې نه چې په لهجه کښې نزاکت رانشي او په خبره کښې نرمي نه وي بلکه ډيره په سادګۍ سره خبره اوکړے شي او که چرې د دين و اسلام او د نيکۍ د تعليم او وعظ او د نصيحت خبرې کولو ضرورت راپيښ شي نو هم دې په نرمه او نازکه لهجه کښې نه وي.

(تفسير ابو سعود، ج: 4، ص: 319-320، مدارک، ص: 940، جمل، ج: 6، ص: 170 ملتقطاً)

## يوه زنانه دې هم د پردې سړي سره په نرمه لهجه کښې خبرې اونکړي

علّامه احمد صَاوي رَحْمَةُ اللہ عَلَيْه فرمائي: ازواجِ مُطَهَّرات رَضِیَ اللہ عَنْهُنَّ د اُمّت ميندې دي او يو کَس هم د خپلې مور په باره کښې د خراب او د شهوت سوچ لرلو تصور نشي کولے، د دې باوجود ازواجِ مُطَهَّرات رَضِیَ اللہ عَنْهُنَّ د خبرو کولو په وخت د نرمې لهجې اختيارولو نه منع کړے شوې دي د پاره د دې چې کوم منافقان خلق دي هغوئي څه لالچ اونکړي ځکه چې د هغوئي په زړه کښې د **اللّٰه** پاک نه ويره نه وي د کومې په وجه چې د هغوئي د طرف نه د څه غلط لالچ انديښنه (ويره) وه! دې د پاره د نرمې

لهجې اختیارولو نه د منع کولو سره دا ذریعه بنده کړے شوه. (تفسیر صاوي، ج:5، ص:1637) د دې نه دا خبره واضحه شوه چې د ازواجِ مُطَهَّرات رَضِیَ اللہ عَنۡهُنَّ د پاره دا حکم دے نو د باقي پاتې کیدونکې (زنانؤ) د پاره به دا حکم څومره زیات وي چې د نورو د پاره خو د فتنو موقعے نورې هم زیاتې دي.

## د عِفَّت او حیا حفاظت کوونکو زنانؤ د شان لائق کار

د دې آیت نه معلومه شوه چې د خپل عِفّت او د حیا حفاظت کوونکو زنانؤ د شان لائق دا دي چې کله هغوئي ته د څه ضرورت، مجبورئ او حاجت په وجه د چا پردي نارینه سره خبرې کول پیښ شي نو چې په لهجه کښې ئې نزاکت نه وي او په آواز کښې ئې هم نرمي او لچک نه وي بلکه د هغوئي لهجه کښې دې نا اشنا وي او په آواز کښې پرَدے والے او بے تعلقي ظاهره وي، د پاره د دې چې مخامخ کَس څه غلط لالچ اونکړي او د هغه په زړه کښې شهوت (غلط خواهش) پیدا نه شي او چې کله د سیِّدُ المُرسَلین صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سورې لاندې د ژوند تیرونکو د اُمَّت میندو او د عِفّت او عِصمت د ټولو نه زیاتو محافظو مقدسو زنانؤ ته دا حکم دے چې هغوئي دې په نازکه لهجه او نرم انداز کښې خبرې نه کوي د پاره د دې چې شهوت پرستو ته د لالچ څه موقع میلاؤ نه شي نو د نورو زنانؤ د پاره چې کوم حکم وي د هغې اندازه هر عقل مند انسان په آسانئ سره لګولے شي.

# د پاکۍ معاشرې په قیام کښې د دینِ اسلام کردار

دینِ اسلام ته دا اعزاز حاصل دے چې ده د پاکې معاشرې د قیام د پاره هم دا رنګه چې کوم څیزونه په دې لاره کښې خنډان دي، د هغې د ختمولو د پاره ډیر ښکلي او اثرناکه ګامونه پورته کړي دي. فحاشي، عُریاني او بے حیائي د پاکې معاشرې د پاره د زهرو حیثت لري، دینِ اسلام چې څرته د دې څیزونو په ختمولو زور راوړے دے هلته ئې د هغه ذریعو او اسبابو ختمولو طرف ته هم پام کړے دے د کومو نه چې فحاشي، عُریاني او بے حیائي خوریدے شي، لکه د زنانؤ په نرمه او نازکه لهجه کښې خبرې کول د نارینؤ په زړونو کښې د شهوت (یعني د ګنده خواهش) را پیدا کولو د پاره ډیر ښه تخم دے او د فحاشۍ او بے حیائۍ طرف ته مائله کوونکي زنانه په ابتدا کښې د دې څیز نه کار اخلي، دې د پاره اسلام د دې ذریعے د بندولو اوفرمائیل چې معاشره پاکه پاتې شي او د دې بنیادونه مضبوط وي. افسوس! زمونږه په معاشره کښې د آزادۍ، روشن خیالۍ او د معاشي ترقۍ په نوم باندې زنانؤ ته د پردو نارینوو سره د خبرو کولو نوې نوې موقعې ورکولے شي او زنانؤ ته په نازکه لهجه او نرم انداز کښې د خبرو کولو باقاعده تربیت ورکوي او د تعلیم، طِب، د تجارت د سفر، میډیا او ټیلي کام وغیره په مختلفو شعبو کښې تعینات کولے شي تر دې چې په دنیائي شعبه جاتو کښې د عوامي رهنمائي او خدمت کولو شاید که داسې شعبه وي چرته چې تربیت یافته زنانه موجوده نه وي او د دې

نتيجه د ټولو د وړاندې ده او داسې زنانه ښه پوهيږي چې دوئي ته د نورو زنانؤ په مقابله کښې د شهوت پرستو (يعنې د ګنده خواهش لرونکو) نارينؤ سره څومره واسطه راځي.

**الله** کريم دې خلقو ته عقلِ سليم او هدايت عطا کړي او د دينِ اسلام د فطرت سره د مطابقت لرونکو تعليماتو د پوهې او په دې باندې د عمل کولو توفيق عطا کړي. امين.

(صراط الجنان، ج: 8، ص: 6 نه 18)

**يا الله پاکه!** د حضرت فاطِمې بي بي رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا د حيا د څادر په وسيله! ټولو مسلمانانو زنانؤ ته د اسلامي پردے سعادت نصيب کړي. امين.

د تفصيلي معلوماتو د پاره د مکتبة المَدينه د 397 صفحو کتاب "پردے کے بارے میں سُوال جواب" خامخا اولولئ.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب　　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

طالب غم
مدینہ
بقیع

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن۔

## د زنانه څادر ته هُم مه ګورئ

د دويمې صدۍ تابِعي بزرګ حضرتِ عَلا بِن زِياد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه (وفات: 194 هجري) فرمائي: د زنانه په څادر هُم نظر مه اچوئ ځکه چې نظر [کتل] په زړه کښې شَهوَت (مخصوص خواهش) پيدا کوي.

(الزهد لاحمد بن حنبل، قول نمبر: 1428)


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com